عبدالوهاب شیرزوی ۲۰۱۷/۰۲/۰۳

# د بلوڅو تاریخی بهیر ته لنډه کتنه

## لومړۍ برخه

مخکي له دې چې د بلوڅو د ننګيالی قوم په روا او حقه مبارزو باندې خبرې وکړو، لازمه ده چې د دوی په جغرافيايي موقيعت باندې يوه ځغلنده کتنه تر سره شي:
د ختيځ لور ته د ديره اسماعيل خان په ګډون پنجاب سره لګيدلي، لويديځ برخه يې د بندر عباس د کرمان د ختيځې غاړې او سيستان په ګډون د ايران سره پوله لري، سويل ته يې د عرب بحيره پرته ده او شمال لور ته يې د هلمند سيند د جنوب لويديځ څنډو ته رسيږي. بلوچستان اوه سوه ميله اوږدوالي او پنځه سوه ميله پلنوالی لري، د دوی سيمه سمسوره او زرغونه ده، شنه باغونه، شني دښتي، ښې اوبه او پراخه ورشوګانې لري. د بلوڅو قوم د نورو قومونو په شان هر اړخيزې ښېرني ته ضرورت لري. له دې کبله د ټولو حالاتو بيانول د اوسنی ليکني له حوصلې څخه بهر ده، خو په لنډ ډول د بلوڅو باتور قوم تيرو مبارزو ته کتنه کوو.
دا قوم په افغانستان، ايران او بلوچستان کې پروت دی، زياد شمير يې په کر کيله او سوداګرې بوخت دي، قومی نظم يې په ځينو سيمو کې اوس هم د پخوا په شان د سردارانو او نوابانو په لاس کې دي. په توره، ميرانه مليمه پالنه، عهد او پيمان کې د نورو څخه کم نه دي، صلح غوښتونکي، بې ازاره او زحمت کش خلک دي، خو د ظالم د تيري پر وړاندی سخت دريځه او قاطع خلک دي.
د انګريز او افغان د دويمي جګړې « ۱۸۷۹ م » او د ډيورند د استعمار کرښی « ۱۸۹۳ م » په پايله کې بولان ، نصير آباد ، کويټه بياهم د افغانستان له بدني څخه جلا کړل شوی اودا سيمې په يوه نامه د برتيانوی بلوچستان تر سر ليک لاندې د « ون يونټ » يا يوه اداری واحد په نوم منځ ته راوړلې او د بلوڅو پاتې علاقي لکه : ساروان ، جاله وان ،کچي او مکران ځيني برخي يې د « قلات » د سيمې تر سر ليک لاندې راغونډې کړلې او خپل استازې مير محمود خان نومې ته يې و سپارلی . يو نوم وتې پرنګې « فورټ سد يمن » چې يو هوښيار او چالاک انسان و چې له « ۱۸۷۶ م څخه تر ۱۸۹۲ م » پورې ددې منطقې حاکم پاتې شوې دې د پښتنو او پلوڅو په باب يوه جدی سپارښتنه لري او هغه داچې پښتون او بلوڅ د مټ په زور نه ماتيږي او هيڅ کله د چا واک او اختيار لاندې نه راځي خو په چال او نيرنګ يو څه موده په منګلوکې ساتل کيدای شي . تاريخ به هيڅ کله هير نکړې چې د پانی پت په جګړه کې د مير نصرالله خان تر مشرې لاندې د ۳۵ زرو تنو بلوڅو شازلمو د خپلو پښتنو ورونو سره وږه په وږه وجنګيدل او د بريا جنډه يې رپانده و ساتله ، همدارنګه د پنجاب د سکانو په جګړه کې ۱۳ زره بلوڅ ځوانان د افغانستان په اوردو کې شامل و ، همدارنګه د مشهد په جګړه کې ۲۰ زره بلوڅو ځوانانو برخه اخيستې وه .
د کومې ورځې څخه چې انګريزانو چې زمونږ په تاريخی وطن په دغه سيمو د اميد سترګې غړولې دې ميرانی بلوڅ قوم آرام ندې ناست بلکې د توديې او سرې مبارزې په ټولو لارويې د آزادی او خپلواکی لپاره هلي ځلي کړې دې او د هر ډول استعمار پر ضد درېدلي دي ، ددې خبرې معنی دا ده چې نه يوازې انګريزان بلکې ددوی پلوی استعماريې هم غندلي دي او پر کلکه يې د هغې پر ضد فعاله مبارزه کړيده . کله چې په ۱۹۲۹ م کال نواب يوسف عليخان په ورستيو شپو ورځو کې د پنجاب د « همدرد » نومې جريده کې د « فرياد بلوچستان » په نامه يوه دردناکه مقاله وليکله پدې مقاله کې د پرنګې دزور او ظلم داستان بيان کړی وه نواب يوسف علی خان سم دلاسه بندی شوه شاهی جرګې «۲۹۰۰» پاکستانی کلدارې او د يونيم کال بند حکم پرې صادر کړ ، د نواب څخه ورسته مير عبدالعزيز کرد په ۱۹۳۰ م کال د بلوڅو د اتحادې په نوم يوه ټولنه جوړه کړه او د نواب سره يې په زندان کې رابطه ساتله دغې ټولنې تر ټولو ړومبی د کلات د صدراعظم ميرشمس شاه پر خلاف تحريک وچلوه او يوه نسخه يې د شمس کردی په نامه چاپ کړه چې دغه تحريک شاه د مظالمو ماجرا پکې بيان شوی و په ۱۹۳۲ م کال د « ال انديا بلوڅ کنفراس » په سند کې جوړ شوه چې رياست يې خان عبدالصمد خان اڅکزی کاوه چې ډيرې مهمې فيصلې پکې وشوې .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

په « ۱۹۳۳ م » کال یو بل « آل انډیا بلوڅ کنفرانس » په « سند » کې جوړ شوه چې ریاست یې د سند وزیر اعلی میر بندی علی خان لره ، پدې لویه جرګه کې زیاتو پښتنو او بلڅو برخه اخیستې و په همدې کال د کلات والی میر احمد یار خان پلار مړ شوه او دې یې پر ځاې کښیناست د کلات نوې خان په ښکاره د سیاسي فعالیت سره مینه نه ښودله مګر په پټه یې ملګري و او د منورو بلوڅو سره یې خپله رابطه ساتله ، نوی خان په آزادی مین ځلمیان په رسمي کارو وګمارل او د بلوڅو اتحادیې سره یې مرسته وکړه چې په پایله کې اتحادیې زور واخیست د پنجاب او د سند په مطبوعاتو کې یو لړ مطالب د آزادو انتخاباتو په ګډون چاپ کړل ، له همدې کبله میر عبدالعزیز کرد و نیول شوه د همدې کالو په جریان کې یو زیاد شمیر بلوڅان و نیول شول او د جیل خانو میلمانه شول چې په خپلوانو او کورنیو باندې یې سخت کړاونه راوستل شول اکثره ځوانان د پولیسو تر ځارنې لاندې راغلل د دندو څخه لیرې شول د آزادې غوښتنې په جرم د ډیرو درندو سزاګانو او نقدې جریمو مستحق و ګرځیدل له همدې کبله د ځوانانو احساسات راوپاریدل چې په ډیر جوش او خروش یې ملي محاذ ته ورودانګل داسی قرباني یې ورکړې چې انګریزانو ګوتې په غاښو کې ورته نیولې وې .
محمد حسین خان عنقا اود هغه ورور محمدحسن نظامي چې بیا ورسته د صحافت او سیاست ځلانده ستورې شول د ملک څخه ووتلل او کراچې ته لاړل هلته یې دوه اونیزې مجلې « البلوڅ » او بله یې د « بلوچستان جدید » په نومو نشر کړلې او یو ډیر منظم سیاسي، ټولنیز فعالیت یې پیل کړ خو انګریزانو لږ موده ورسته دغه دواړه مجلې توقیف کړې په « ۱۹۳۷ م » کال کې د قلات نیشل پارټې جوړه شوه بلوڅ میر عبدالعزیزکرد یې ریس او نومیالي شاعر میر ګل خان بصیر یې د مرستیال په توګه وټاکل شو .
میرفاضل خان ، محمد شبي خان ، ملک عبدالرحیم ، خواجه خلیل ،ملک فیض محمد او ملک عبدالرحیم شورش یې فعال غړې وه ، دې ډلې په لږ موده کې بلوڅ پر ځان راټول کړل ، ورځ په ورځ یې قوت زیاتیده ، دې نوښت د انګریزانو پاملرنه جلب کره ، د خپلو ګوډاګیانو په مرسته یې ددې پارټې د ماتیدو ټکل وکړ او پټه لاس وهنه یې پیل کره لومړی یې خلک په خپل منځ کې سره واچول او بې له ځنډه یې په خان اعظم خان پسې وېناوې او مظاهرې پیل کړې چې کارېې تر لاس اچولو پورې ورسید پدې وخت کې ځینې قومي مشران لکه : میر غوث بزنجو ، میر عبدالکریم شورش د ځینو نورو په ګډون د ریاست د سیمې څخه وشړل شول ، په ریاستي سیمه کې پارټې ړنګه شوه مګر د برټش په سیمه کې د شاملو غړو لخوا د میر عبدالکریم شورش په مشرې بیا فعالیت پیل کړ چې ددې فعالیت مرکز کویټه وه .
د کلات خان د « ۱۹۴۷ م » کال د اګست په ۱۲ په رسمي توګه د پاکستان د جوړیدو تر اعلان دوه ورځې مخکې د همدغو خبرو او اعلامیوپه رڼا کې د کلات د خپلواکی اعلان وکړ پدې وخت کې د بلوڅو نوابان ، سرداران ، ملکان او ګڼ شمیر خلک حاضر وه ، اعلان د کلات په جامع جوماټ کې وشوه او د خپلواکی سور او شین بیرغ چې پر مخ یې مبارکه کلمه لیکلې و د جوماټ د پاسه راځوړند شوې وه .
د کلات خان پدې مناسبت خپله پیاوړې وینا کې وویل:
«نن د لوی ښتن په مینه او لورینه کلات خپلواک او آزاد دي ما له ډیر پخوا څخه دا درې ارمانونه درلودل .
۱ : داچې کلات خپلواکی ومومي .
۲ : دا چې د قرآن شریف ایتونه او احادیث پکې جاري شي .
۳ : دا چې زما قوم راغونډ شي او د پر مختګ په نعمتونو او خوږو باندې ماړه شي .
زه ټولو بلوڅو ته خواست کوم چې د خپلې آزادې د ساتلو په لار کې هرې سر ښندنې ته چمتو شي او له خپل لوی خدای څخه پرته بل د هیڅ قوت په وړاندې سر ټیټ نکړي د خان تر وینا ورسته نارې او سورې پورته شوې ډزې وشوې او بیا د کلات د بقا له پاره دوعاګانې وشوې ، د کلات د خان تردې اعلان ورسته یولړ چارې عملي کړې چې یوه یې د انتخاباتو مسله و د کلات د شورا د «۲۵ » کرسیو څخه ړنګې شوې نشنل پارټې ۱۹ کرسې وګټلې ، بلې خوا د کلات خان خپل صدراعظم نواب زاده محمد اسلم خان او د بهرنیوچارو وزیر یې چې یو انګریز و چې « ډی ، وای فل » نومیده د خبرو اترو له پاره یې جناح ته ولیږل د خبرو په درشل کې دا معلومه شوه چې د جناح نظر د کلات د آزادی په هکله بالکل په ښټ اوښتې او خپلې ټولې وېناوې یې ، اعترافات ، او وعدې یې یو مخ هیرې کړې دي او ټینګه ملایې تړلې ده چې کلات د پاکستان پورې وتړي ،جرګه ناکامه او هیت بیرته کلات ته راستون شوه ، څه موده خان کراچې ته ورغي او له جناح سره یې وکتل ، جناح ورته وویل:
خانه : ته لومړی د کالات د الحاق کار له پاکستان سره خلاص کره بیا به نورې خبرې کوو»


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د کلات خان خواشيني بيرته راستون شو . ورسته خان « وا يسراى » احتجاج وکړ او هغه په ځواب کې ډاډ ورکړ
چې کلات کاملاً د يو ځانګړې حيثت خاوند رياست دي او د هند حکومت به د « ۱۸۷۶ م » د کال د تړون پوره
رعايت کوي .

نور بيا



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ